


د مولانا سعيد افغاني : آزاده ، ټولنيزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!

|  | د محب الرحمن « خطيبي » ليکنه<br>د نشر نيټه : ۲۶ اپريل ۲۰۱۳ ميلادی |
|---|---|

# هانيبـــــــال

# Hannibal

دتاريخ له خورا زړورو، باتورو او هوښيارو سر لښکرو نه يو هم هانيبال(په قوم فوينيک او له ړنګ شوی کارتاژه ) وو. دی نه يواځې دخپل د پيری جنګی زړور نابغه بلل کيږی بلکه د هغه زړورتوب اوسرلښکری اوس هم داحترام وړ ده .
مخکی له دی نه چه دا زړور قومندان وپيژنو ضرور دی چه لږڅه د هغه د وران شوی ټاټوبی روميانو له خوا او دهغه قوم په باره کی آشنای پيدا کړو.

څه د پا څه دوه زره کاله مخکی په شمالی افريقا ( اوسنی تونس ) او دهغه شاه او خواه کی خورا لوی او قدرتمنده دولت د کارتاژ په نامه موجود وو چه د فوينيکيانو قوم په کی حکمرواى کوله.
هر قدرتمنده دولت دوستان او د ښمنان لری چه له همدی کبله کارتاژ دخپل بی رحمه پياوړی دښمن روميانو له خواه ړنګ او له مينځه لاړه او ژوندی خلک يی د غلامی او بردګی لپاره روم ته وليګل شول.
د مديترانه بحيره، شمالی افريقا ، هسپانيا ، سيسلی ، ساردينا او کورسيکا باندی کارتاژ حکمرواى درلوده چه دا دروم امپراطوری ته لوی خنډ وو ځکه روميان نه غوښتل چا سره خپل قدرت او خاوری تقسيم کړی .
په ۲۴۷ مخکی له ميلاده په کارتاژ کی د سر **Hannibal son of Hamilcar Barka**هانيبال لښکر هاميلکار بارکا په کور کي پيدا شو. لس کلني کي هانيبال پلار سره هسپانيا ته د جنګ لپاره لاړه. پوليبی او نور تاريخ ليکونکی داسی ليکی « هانيبال ويل مخکی له تګه هسپانيا ته پلار له ما قسم واخيست ، چه دژوند تر آخره به دروم او روميانو دښمن اوسم او له رومه به نفرت لرم . » هغه دژوند تر آخرو شيبو هم پخپل قسم ولاړ وو.

هانیبال په نظامی اوردوګاه کی لوی شو ، او هلته یی  ډیر ښه رزمی او علمی  روزنه لاس ته راوړه .
دا زړور قومندان خپلو جنګیالیو مینځ کی داحترام او مینی خاوند وو .

په ۲۲ کلنی کی د سواره غنډ قومندانی لاس  ته راوړه ، ځکه چه  ددی غنډ  پخوانی قومندان
هاسدروبال  د هامیلکار ( دهانیبال پلار )  له وژنی وروسته د کارتاژ دلښکر عمومی قومندان وټاکل
شو.
په ۲۲۹ کال  مخکی  له  میلاده  هاسدروبال وژل  کیږی ، او  دهسپانیا  لښکر  د  کارتاژ  له  همایته
پرته خپل قومندان  هانیبال ټاکی . په هسپانیا کی نوی کارتاژی ولایت جوړیږی . هانیبال اقتصادی
چاروکی ، خزانی کی او لښکر نظم او دسپلین  مینځ ته راوړی ،او له اجنبی اجیره عسکرو څخه یو
لوی غنډ جوړوی .

هانیبال  رومیانو سره جنګ ته تیار وو، ولی نه یی غوښتل  د کارتاژ له رضایته پرته دروم په ضد
کي چه دروم  د سنا مجلس  **Saguntum** جګړه پیل کړی . ولی د هسپانیا  په مستعمره  ساګونت
د حمایت لاندي وود  صلحي  تړون ړنګ  شو او ددی  سیمی مالکان  له  رومه د مرستی غوښتنه
وکړه .روم ساګونت ته خپل استازی ولیګل .

هانیبال کارتاژ ته احوال ولیږه چه ګویا ساګونتان  دکارتاژ دحکومت د مطوابعو سره بد چلند کوی...
له همدی کبله دساګونت پر ضد جګړه پیل شوه. وروسته له اته میاشتی محاصری په ۲۱۸ کال مخکی
له میلاده ساګونت  د  هانیبال له  خوا فتح شو .  دروم  سفیرانو له کارتازه د هانیبال دتسلیمولو
غوښتنه وکړه .
هانیبال فیصله وکړه چه روم سره به په ایطالیا کي جګړه پیل کړی . هسپانیا یی خپل ورور هاسدروبال
ته پریښود  ، اوپه ۲۱۸ کال مخکی له میلاده هانیبال د ۹۰۰۰۰ پیاده ، ۱۲۰۰۰ سواره او ۳۷
جنګی فیلانو سره خپل جنګي سفر ته راهي  شو.
دسیمي جنګ کي هانیبال  **20000** جنګیالي   له لاسه **(Pyrenee**) او پیریني  **(Iberia**د ایبرو
ورکړل.  هاسدروبال ته یی لس زره نور  پیاده ولیګل  او ددسیمي  حفاضت   لپاره یي  **7000**
جنګیالي  پریښود او خپله د**50000** پیاده جنګیالیو سره له پیریني ووت .

له هغه ځایه هانیبال حنوبی ګالیا  (د اروپا لویدیزو سیمو لکه فرانسه ، بلژیک ،سویس دهلند او آلمان
یوه برخه او دآلپ شمالی غرونو کی ګالیانو ژوند کاوو چه  ګالی  ژبه غږیدل  )  ته ښکته شو . قنسل
پوبلي کرنیل سپیون  د  هانیبال لیاره یي  بنده کړه ولی هانیبال  وشو کولای چه له مخامخ کیدو نه ځان
بچ  کړی ،  او د سیزالپي  ګالیانو  په مرسته د پنځلسو  ورځو په موده کي د آلپ  له  غرونه تیر شي .
(  دا تیریدل   د تاریخ  یوه لویه حیرتناکه جنګي سفر بلل کیږی . )

۲۱۸ کال  مخکی  له میلاده  داکتوبر آخری ورځی  د  هانیبال لښکر  وروسته له  پینځه  نیم میاشتو
ډیرو خونړیو جګړو د غرنیو خلکو سره له غرو او تپو نه را ښکته شول . ایطالیا ته هانیبال ۲۰۰۰۰
پیادوو او **6000** سواره سره ورسید . تورین ښاریی ړنګ او بیایی  رومیانو ته اول  د تیچینیو سیند
څنګ ته او بیایی د تیریبی سیند ته نږدی ماته ورکړه.

په  کال **217**  مخکي له میلاده  دوه رومي  لښکر د فلامینیا او سیرویلیا  په قومنده  د  هانیبال لاره یی
بنده کړه ، خو  هانیبال په بله لاره لاړه ، او د ترازمین د جهیل څنګ ته یی د فلا مینیا لښکر ته سخته
ماته ورکړه چه پدي جنګ کي خپله فلامینیا هم ووژل شو .

له دی ماتی وروسته رومیانو سخت دخطر احساس وکړ . او له همدی کبله دلوی قدرت لپاره دیکتاتوری نظام جوړ کړ ، او فابیو ویراکوزه یی ددیکتاتور په توګه وټاکه. فابیو له لویو جګړو تیر شو هغه په واړه او چیریکی جګړو هانیبال لالحند او ستړی کړ .
ولی د فابیو دا سستی درومیانو په خوښه نه وه هغوی له فابیو هر څه زر د هانیبال ورکول او نابودول غوښتل . کله چه د فابیو د حکوممت دختمیدو دوره راغله ، رومیانو دوه قنسله تیرینسیا وارون او فابلو ایملیا یی د لښکر دقومندانانو په توګه وټاکل . دروم لښکر ۹۱۰۰۰ پیاده او ۸۱۰۰ تنه سواره در لود . دهانیبال لښکر ستړی وړی لالحنده دنوی جنګیالیو دراتګ په آرمان ول . ولی کارتاژ تازه نفسه جنګیالی ونه لیګل.

په ۲۱۶ مخکی له م کال د کان په سیمه هانیبال د تیرینسیا وارون لښکر سره مخامخ شو . پدی خونړی جګړه کی رومیانو ۸۱۰۰۰ او کارتاژیانو ۶۰۰۰ عسکر له لاسه ورکړل . هانیبال پدی جګړه کی بیا بریالیتوب لاس ته راوړ . ولی په هر حال هانیبال ونه شو کولای روم فتح کی ځکه چه دمحاصری او در روم ددفاعی ځایو د ړنګو لو لپاره لازمه اسباب او لوازمو ته اړتیا وه . په هر حال د روم متحیدین د سره یو ځای شول او د کاپویا د ښار دروازی دد پر مخ خلاصی شوی .

روم ورو ورو بیرته پخپل حال شو ۀ قنسل مارسیل اول ځل په نول کی کارتاژیانو ته ماته ورکړه.
کاپویا بیرته رومیانو ونیو او هانیبال دفاعي حا لت ځانته ونیو .
له هاسپانیا نه د هاسدروبال لښکر هم ونه رسیده. قنسل کلاودی نیرون د هیرومینتوم په سیمه کی هانیبال ته ماته ورکړه او بیایی د هاسدروبال مرستندوی لښکر له مینځه وی وړ . هانیبال بروتسیوم ته وغوَتل شو ۀ چه افریقا کي د قنسل ژسیمی ته عقب نیشینی وکړه ، او پس له دري کالو بیرته کارتا کورنیلي مخه ونیسي .

په 203 کال مخکي له م هانیبال له ایطالیا نه د افریقا سواحلو ته راستون شو . او خپل لښکریی د هارومیت سیمی کی ځای په ځای کړ او کوښښ یی وکړ چه رومیانو سره له خبرو له لیاری له دی بحرانه ځان خلاص کړی ، ولی رومیان مذاکری ته حاضر نه شول.
کارتاژ ته نیږدی د زام په سیمه کی په 202 کال مخکي له م سخته جګړه ونښته ،چه کاتاژیانو پکښی ماته وخوړه .

ددی جګړی وروسته دصلحی او آرامی وخت راغی ددی صلحی او آرامی بیه رومیانو ته باج ورکول وو. هانیبال کارتاژ کی د سوفیت ( دجمهوریت مشر ) په توګه وټاکل شو .
دو شو کولای د کارتاژ اقتصادی او نظامی پرابلمونه حل کړی. او هیڅکله یی رومیانو پرضد دښمنی ( د اسکندر مقدونی له مرګه IIIپه پټه دسلوکیانو شاه انتیوخوس له یاده نه وته، له همدی کبله د وروسته د آسیا ځمکی سلوکیانو واخیستی) سره د روم په ضد اړیکی تینګی کړی . د هاتیبال دښمنانو روم له دی اړیکو با خبر کړ . روم د کارتاژ له سنا نه دهانیبال د ورکولو غوښتنه وکړه .

هانیبال په ۱۹۵ کال مخکی له میلاده انتیوخوس ته پناه وی وړه ، او هغه یی پدي وهڅوو چه دروم په ضد جنګ ته لښکر تیار کړی . هانیبال فکر کاوو چه کارتاژیان به هم دسره یو ځای شی ولی دکارتاژ دسنا مجلس دد دا غوښتنه رده کړه .
دفیونیکی او دسوریی بحری پوځونه د رومیانو له خوا له مینځه لاړی او انتیوخ دریم د مګنیزی سیمی کی درومیانو له خوا ماته وخوړه.

هانیبال په ۱۸۹ کال مخکی له میلاده ارمنستان خواته وتښتیده او له هغه ځایه پروسیا ته لاړه ځکه چه د پروسیا شاه روم سره ښنیی اړیکی نه درلودی .

هلته هانیبال دقومی لښکر قومندانی لاس ته راوړه . ولی وروسته پروسیانو روم سره بیرته اړیکی ټینګی کړی ، او رومیانو شاه مجبور کړ چه هانیبال روم ته تسلیم کړی او دروم عسکر د هانیبال کور خواته لاړل ، هانیبال ته احوال ورسید هغه ځم د لاسه زهر وڅښل ترڅو ځان له شرمناکه حسارته وژغوری .

محب الرحمن « خطیبي »

**www.said-afghani.org** - بازگشت به صفحه اصلی